

## د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمايي کې

# د پښتو ادب د پرمختیايي بهیر څېړنه

((۱۹۰۱ - ۱۹۵۰ زېږدیز))

څېړنوال سید نظیم سیدي

۱۳۹۸ هـ.ش

د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمايي کې
د پښتو ادب د پرمختیايي بهیر څېړنه
څېړنوال سید نظیم سیدي
۱۳۹۸ هـ.ش



Associate Prof. Sayed Nazem Sayedi

2019

ISBN 978-9936-645-64-6

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونیت
د ژبو او ادبیاتو مرکز
د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټوټ
د ادبیاتو او متنپوهنې څانگه

## د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې

# د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه

((۱۹۰۱- ۱۹۵۰ زېږدیز))

څېړنوال سید نظیم سیدي

۱۳۹۸ هـ.ش

## د کتاب ځانګړنې


**د کتاب نوم:** د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د پښتو ادب دپرمختیایي بهیر څېړنه ((د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د ترفیع اثر))

**لیکوال:** څېړنوال سیدنظیم سیدي

**لارښود استاد:** څېړنپوه نصرالله ناصر

**ایډېټر:** څېړنوال حبیب الله رفیع

**مهتمم:** څېړنوال محمد آصف احمدزی

**کمپوز او ډیزاین:** په خپله لیکوال

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مطبعه:** چهاردهي صنعتي مطبعه

**د چاپ کال:** ۱۳۹۸ ل/ ۲۰۲۰ ز

**د چـاپ شمېر:** ۵۰۰ ټوکه

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-٦٤٥-٦٤-٦



**د لیکوال برېښنالیک:** sayedynazim@gmail.com



د چاپ حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحیم

## لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د لارښود استاد نظر ............ أ
تقریظ ............ ز
تقریظ ............ ك
تقریظ ............ س
سریزه ............ ۱


## لومړی څپرکی


د څېړنې پسمنظر (شالید) ............ ۱۱


## دویم څپرکی

### د وخت ټولنیز – فرهنګي حالت ته لنډه کتنه


الف) ټولنیز حالت ............ ٤٥
د امیر حبیب الله خان واکمني ............ ٤٦
د شاه امان الله خان واکمني ............ ٥٥
د حبیب الله کلکاني واکمني ............ ٧٤
د نادر خان واکمني ............ ٨٢
د ظاهر شاه واکمني ............ ۱۰۰
ب) فرهنګي حالت ............ ۱۱٤


## درېیم څپرکی

### د شلمې پېړۍ په لومړیو پنځو لسیزو کې د پښتو ادب وده او پرمختیا


لومړی) د دغه پېر په فرهنګي بډاینه کې د شفاهي ادبیاتو ونډه ............ ۱٥٦
دویم) پښتو ادب ته د نوو ژانرونو د راتګ لنډ جاج ............ ۱۸۳
ادب څه دی؟ ............ ۱۸٤
د نثر پېژند ............ ۱۸۸
الف: منثور ادبي ژانرونه ............ ۱۹۱
۱- د پښتو ژبې لنډه کیسه «پېژندنه او تاریخ» ............ ۱۹۱

۲- په پښتو کې ناول کښنه «پېژندنه، راتگ او ځلېدنه» ........................ ۱۹۵
۳- په پښتو ادب کې رومان ........................ ۱۹۹
۴- پښتو ادب ته ډرامه کله او څنگه راغله؟ ........................ ۲۰۲
۵- پښتو ژبې ته ادبي راپورتاژ کله راغی؟ ........................ ۲۰۷
٦- طنز د پښتو ادب غوصه په خندا بدله کړه ........................ ۲۱۱
۷- پښتو ادب ته د ادبي ټوټې راتگ ........................ ۲۱٤
۸- ادبي ځان پېښې (خاطرې) په پښتو ادب کې بريالی ژانر ........................ ۲۱۷
۹- ادبي ليکونه مخ په ورکېدلو ژانر ........................ ۲۲۱
۱۰- يونليک يا هغه ژانر چې مينه وال او ليکوال يې زيات شوي ........................ ۲۲٦
۱۱- ادبي ژوندليک "بيوگرافي" ليکل څه ډول ژانر دی ........................ ۲۳۲
۱۲- فلمنامه يا فلمي سناريو زياته، خو پردۍ شوه ........................ ۲۳٦
۱۳- تکل او پښتو ادب ته يې راتگ ........................ ۲٤۱
۱۴- ادبي انځور که د ليکوال حقيقي پېژندنه ........................ ۲٤٦
۱۵- پښتو نندارليک پښتنو ته رنگ راوړ ........................ ۲۵۱
ب) منظوم ادبي ژانرونه ........................ ۲۵٦
نظم ........................ ۲۵۷
۱- مفکوره يا اند "اندېشه" ........................ ۲۵۹
۲- احساس ........................ ۲۵۹
۳- تخيل ........................ ۲۵۹
لومړی- ازاد نظم ........................ ۲٦۳
۱- آزاد نظم ........................ ۲٦۹
۲- مقيد يا پابند نظم ........................ ۲۷۱
۳- معری نظم ........................ ۲۷۳
۴- سانېټ نظم ........................ ۲۷۵
ترانه ........................ ۲۷۷
هايکو ........................ ۲۸۲
دريېم) د دې پېر په نظم او نثر کې د نوو عناصرو کارونه ........................ ۲۹۱

څلورم) د پښتو ادب په وده کې د رسنیو ونډه ........................................... ۳۰۵
سراج الاخبار افغانستان ........................................... ۳۱۱
پښتون ........................................... ۳۱۲
طلوع افغان ........................................... ۳۱۳
پښتو ........................................... ۳۱٤
آزاد پښتون ........................................... ۳۱٤
کابل مجله ........................................... ۳۱۵
زېرى ........................................... ۳۱۷
آئینه عرفان ........................................... ۳۱۸
اتحاد مشرقي ........................................... ۳۱۹
نن پرون ........................................... ۳۲۰
وړانګه ........................................... ۳۲۱
ژوند ........................................... ۳۲۱
سیستان ........................................... ۳۲۱
لوی پښتون ........................................... ۳۲۲
عدل ........................................... ۳۲۲
الصادقه ........................................... ۳۲۳
هېواد ........................................... ۳۲۳
آزاد پښتونستان ........................................... ۳۲٤
ورور بږغ ........................................... ۳۲٤

## خلورم څپرکی

**د شلمې پېړۍ د نثر او نظم په وده کې د ځینو مشهورو شاعرانو او نثر لیکونکو ونډه**

الف) ځینې مشهور شاعران ........................................... ۳۳۰
غلام محی الدین افغان ........................................... ۳۳۰
مولوی صالح محمد ........................................... ۳۳٦
امیر حمزه شینواری ........................................... ۳٤۵
ګل پاچا الفت ........................................... ۳۵۳

عبدالغني غني ........................................................................ ۳۶۲
عبدالرحمن پژواک ..................................................................... ۳۶۹
بشری بېگم ........................................................................... ۳۷۸
اجمل خټک ........................................................................... ۳۸۲
اکاډمیسین سلیمان لایق ............................................................... ۳۹۱
ب) ځینې مشهور نثر لیکونکي ......................................................... ۳۹۹
سیدراحت الله راحت زاخیلی ........................................................... ۴۰۰
محمد گل مومند ........................................................................ ۴۰۷
پوهاند عبدالحی حبیبي ................................................................. ۴۱۵
نورمحمد تره کی ....................................................................... ۴۲۵
مېرمن حمیده .......................................................................... ۴۳۲
حبیب الله تږی ......................................................................... ۴۳۶
قلندر مومند ............................................................................ ۴۴۱
دوست محمد دوست شینواری .......................................................... ۴۴۸
پایله ................................................................................... ۴۵۷
وړاندیزونه ............................................................................. ۴۶۱
مأخذونه .............................................................................. ۴۶۳

د څښتن تعالی په سپېڅلي نامه

# د لاربنود استاد نظر

## د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه

## (۱۹۰۱- ۱۹۵۰ م)

د هغې علمي – څېړنیزې پروژې سرلیک دی چې پنځه کاله مخکې د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو د علمي مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت له خوا ښاغلي څېړندوی سیدنظیم سیدي ته د څېړنې لپاره سپارل شوې وه.

ښاغلي سیدي دغه موضوع زما په لاربنوونه له خپل تاکلي وخت څخه څو میاشتې دمخه په بریالۍ توګه بشپړه او د وروستي ځل لپاره یې ماته د لوستلو لپاره راوسپارله.

مخکې له دې چې د دې رسالې په اړه خپل نظر څرګند کړم، غواړم له موضوع سره په تړاو مقدمتاً د څو لنډو ټکو یادونه وکړم:

ما په ځینو هغو پروژو کې چې تر دې پروژې دمخه زما په لاربنوونه ترسره شوي، د پښتو د یوه جامع ادبي تاریخ د لیکلو په اړه د ځینو ټکو یادونه کړې ده، نو ځکه دلته بیا هغه بحث نه تکراروم، یواځې دومره وایم چې دا پروژه هم د هماغې لړۍ یوه مهمه برخه ده چې د پښتو د یوه جامع ادبتاریخ په لیکلو کې مرستندویه واقع کېدای شي.

شلمه پېړۍ یو داسې پېر دی چې په هغه کې د ژوند په بېلابېلو برخو کې څرګند بدلونونه تر سترګو کېږي. وایي چې ادب د هرې ټولنې هنداره ده، نو ځکه د هر پېر په ادبیاتو کې د هغه مهال شرایط وغواړو که ونه غواړو منعکس کېږي.

پښتو چې یوه شتمنه لرغونې او مهمه ژبه ده، نو ځکه غني ادبیات هم لري. د دې ژبې د هر پړاو او پېړۍ د ادبیاتو مطالعه ځانګړی اهمیت لري، خو په اوسني وخت کې د پښتو ادبیاتو د نورو پېرونو د مطالعې ترڅنګ د پښتو د شلمې پېړۍ د ادب د پرمختګ د څرنګوالي د بهیر مطالعه او څېړنه هم اړینه ده.

د پښتو ادب د معاصرې دورې د پیل کېدو په اړه ادبڅېړونکو او د دې برخې پوهانو بېلابېل نظرونه څرګند کړي دي. ځیني ادبپوهان یې هند ته د انګرېزانو له راتګه پیلوي او ځیني نور یې د امیر شېرعلي خان له وخته را پیلوي او هره ډله ځانته خپل خپل دلایل او

لاسوندونه لري چې دا يو اوږد بحث دی او په څو لنډو ټکو کې نه شي بيانېدلای، خو وروستيو څېړنو دا په ډاګه کړې ده چې د پښتو معاصر ادب د شلمې پېړۍ له دوهمې لسيزې څخه را پيلېږي او دا مهال د معاصر ادب د پرمختيا په اړه ور ګامونه پورته شول، زموږ ادبياتو ته نوو عناصرو لار وموندله چې لومړی دغه بدلونونه يواځې د شعرونو په منځپانګه کې تر سترګو کېدل، وروسته دغه بدلونونه د شعرونو بڼې ته هم ور ننوتل. دلته د هغه وخت د شعر يوه بېلګه چې نوي عناصر په کې له ورايه ښکاري، راوړم:

دا څـــــه عجيـــــب دوران دی
چـــې راغلـــی پـــر افغـــان دی
رنګارنګـــــــه ترقـــــــي ده
څـه عجـب محبـوب عنـوان دی
دا لــه کومــه ســو پــه مــوږ کــې
چـــې ظـــاهر او نمايـــان دی
دا خـــــو عصـــــر د سراج دی
چـې افغـان ټولـه پـرې روښـان دی
تـــه سراج الاخبـــار تـــه ګـــوره
چې د ملـک پـه تـن کـې ځـان دی
اوس بيــا نــور علــی نــور ســو
پــه پښــتو چــې دی ګويــان ســو
(مولوي صالح محمد کندهاری)

لنډه دا چې په افغانستان کې د پښتو د معاصر ادب پيل د سراج الاخبار له دوهم ځل خپرېدو، يعنې ۱۹۱۱ م کال او په پښتونخوا کې لـه ۱۹۱۰ م کـال، يعنـې د افغـان اخبـار لـه خپرېدو څخه را پيلېږي. له نن نه شاو خوا پنځه ويشت کاله دمخه زموږ يـوه پېژنـدل شـوي ليکوال او محقق د پښتو ادب د راتلونکي برخلک په اړه داسې ويلي وو:

"د پښتو ادب راتلونکی سرنوشت يو ځل بيا سياسي حالاتو ته انتظار باسي. د دغه کتاب د ليکلو په وخت کې د افغانانو ترمنځ د ورور وژنې جګړه دوام لري. يوه ورځ به جګړه پـای ته ورسېږي نوی ژوند به پيل شي، خو څرګنده نه ده چې د پښتو ادب لپاره بـه څنګـه زيـری له ځان سره ولري."

که څه هم له هغه مهاله تر اوسمهاله په هېواد کې په نسبي توګه شرایط یـو څـه ښـه دي، خو بیا هم جګړه روانه ده، سره له دې چې په پلازمېنه کابل کې هم کلـه کلـه د بـاروتو، تـور لوګي تر سترګو کېږي، خو د څښتن تعالی ﷻ په فضل موږ پـه دغسـې شرایطـو کـې هـم د ډېرو شعري ټولګو، څېړنیزو آثـارو، ژبـاړو او نـورو دې تـه ورتـه آثـارو د لیکلـو او خپرولـو شاهدان یو چې د پښتو ادب ګلبڼ پرې لا ښـکلی کېږي او دا د پښـتو ادب لپـاره یـو غـوره زېری دی.

د نوو ادبي او فرهنګي اثارو د پنځـونې او څېړنـې پـه بهیـر کـې د یـوه نـوي او تـازه اثـر شاهدان هم یو چې ځوان، تکړه او هڅاند لیکوال او ژورنالیست څېړندوی سیدنظیم سـیدي "د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایـې کـې د پښـتو ادب د پرمختیـایي بهیـر څېړنـه "تـر سرلیـک لاندې یې د تحلیلي، تشریحي او انتقادي میتودونو په رڼا کې بشپړ کړی دی.

دغه اثر یوه سریزه، څلور څپرکي، پایله، وړاندیزونه او د اخځلیکونو فهرست لري.

په سریزه کې لـه معمـول سره سـم لـه مقـدماتي خـبرو وروسـته د موضـوع پـر ضرورت، هدف او د کار په څېړندود خبرې شوي او همدارنګه یې دغه اثر لنډ معرفي کړی هم دی.

د پروژې لومړی څپرکي د موضوع شالید یا پسمنظر تـه ځـانګړی شـوی دی. پـر شـالید باندې پر بحث سربېره د موضوع مبرمیت هم څرګند شوی چې ایا دغـه موضـوع پـه څېړلـو ارزي او که نه، همدارنګه یې ځینې هغه مهـم آثـار چـې د دې رسـالې پـه لیکلـو کـې تـرې ښاغلي لیکوال استفاده کړې ده لنډ لنډ معرفي او پر هر یوه یې لازم بحث هم کـړی دی، نـه یوازې یې خبرې پرې کړې، بلکې کره کتنه یې هم پرې کړې ده.

د دې رسالې دوهم څپرکی د وخت د ټولنیز او فرهنګي حالت څېړنـې تـه ځـانګړی شوی دی.

لیکوال په دې برخه کې د ټولنې سیاسي، ټولنیز او اقتصادي حالتونه لنډ لنډ څېړلي، څـو د فرهنګي او ادبي حالت څېړنې ته لاره اواره شي.

د دې څپرکي په دوهمـه برخـه کـې د فرهنګـي حالـت څېړنـه د امیـر حبیـب الله خـان د واکمنۍ له مهاله را پیل شوې او دغه څېړنه د پروژې له فهرسـت سره سـمه تـر ۱۹۵۰ م کالـه غځېدلې چې د اعلیحضرت محمدظاهر شاه د واکمنۍ شاو خوا ۱۷ کاله رانغاړي.

لیکوال د دې څېړکي ټولې برخې تقریباً په بشپړه بېطرفۍ څېړلي ښه ته یې ښه، بد ته بد، سم ته سم او ناسم ته یې ناسم ویلي او موضوع یې د څېړنې له اصولو سره سمه بشپړه کړې ده.

د دې رسالې د دریم څپرکي سرلیک دی: "د شلمې پېړۍ په لومړیو پنځو لسیزو کې د پښتو ادب وده او پرمختیا" لیکوال په دې څپرکي کې لومړی شفاهي ادبیات څېړلي او د دغه پېر په فرهنګي بهاینه کې یې د هغو اغېزې په ګوته کړې دي.

ورپسې یې پښتو ادب ته د نوو منثورو او منظومو ژانرونو د راتګ مسأله څېړلې، د هر ژانر د راتګ تاریخي بهیر یې څېړلی، هر ژانر یې تعریف او د هغه پر پرمختیایي سیر یې رڼا اچولې ده. د دې څپرکي په پای کې یې د پښتو ادب په وده کې د رسنیو د ونډې پر څېړلو سربېره په نظم او نثر کې یې د نوو عناصرو کارونه هم نه ده هېره کړې او لازم بحث یې وړاندې کړی دی.

د دې اثر په څلورم او وروستي څپرکي کې د شلمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي د نظم او نثر په وده کې د ځینو وتلو او پېژندل شوو لیکوالو او شاعرانو پر ونډه خبرې شوې دي. لومړی ځینې مشهور شاعران لکه: مولوي صالح محمد کندهاری، امیر حمزه شینواری، عبدالغني خان، عبدالرحمن پژواک، اجمل خټک، ګل پاچا الفت او نور....

ورپسې ځینې پېژندل شوي نثر لیکونکي لکه: سید راحت زاخیلی، نور محمد تره کی، محمد ګل خان مومند، عبدالحی حبیبي او نور.... معرفي او د آثارو بېلګې یې راوړل شوي او د دغه مهال د ادبیاتو په وده کې د دوی پر دریځ او آثارو لازم تحلیلي بحث شوی او موضوع یې ښه روښانه کړې ده.

دغه اثر په یوې غوره پایلې او وړاندیزونو پای ته رسېږي او په پا کې د مأخذونو یو بشپړ لیکلړ هم لري چې شمېر یې (۱۷۹) ته رسېږي.

ښاغلي سیدي په پروژه باندې د کار له پیله تر پایه خپل ترسره کړي کارونه ما ته راوړي، ما هم کتلي او لازمې مشورې مې ورکړې دي، وخت په وخت مې د نوو اخځونو په ښودلو کې هم ورسره مرسته کړې ده او دا دی لکه دمخه مې چې وویل په پای کې مې دغه اثر یو ځل بیا په دقیقه توګه ولوست چې د لارښود استاد په توګه یې په اړه خپل نظر داسې څرګندوم:

د څېړنې اصول حکم کوي، که چېرې څېړونکی یا محقق لږ تر لږه شل سلنه نوې خبرې او نوې څېړنه ونه کولای شي نو بیا یې یادې څېړنې ته اړتیا نه شته؛ خو د افغانستان د

علومو اکاډمي چې د هېواد په کچه يو ستر علمي – څېړنيز مرکز دی، د علمي غړو د علمي ترفيعاتو په لايحه کې يې تر دې پياوړي شرايط وضعه کړي دي، هلته راغلي هره علمي – تحقيقي موضوع چې څېړل کېږي بايد ٦٠ سلنه نوي او ابتکاري مواد ولري.

د څېړنې د نورو موضوعگانو ترڅنگ يوه مهمه خبره دا هم ده چې ليکوال بايد په اثر کې موجود وي، يعنې تش تدوين او اوډنه، نه وي بلکې اثر څېړنيزه بڼه ولري.

ما چې کله د ښاغلي سيدي اثر لوسته که مبالغه ونه کړم نو دی مې په هره پاڼه کې وليد، نو ځکه په زغرده ويلی شم چې د ده په اثر کې که له پورتنی يادې شوې سلنې څخه څېړنيزه او ابتکاري برخه زياته نه وي نو کمه خو نه ده.

په پای کې په لنډو ټکو کې وايم هغه موازين چې تطبيق يې د يوې علمي – څېړنيزې پروژې په کښلو کې لازمي او حتمي دی، لکه: د ليکدود يووالی يا د واحد ليکدود مراعات، د ليک نښو پر ځای کارونه، د سرچينو او منابعو ښودنه، د موضوعاتو تحليل او هغو ته په انتقادي ليد کتنه او نور... له نېکه مرغه ټول يې په پام کې نيولي دي.

زه د نوموړي د لاربنود استاد په توگه د هغه ترسره کړی کار تاييدوم، پورتنيو او دې ته ورته ښېگڼو ته په پاملرنه يې مثبت ارزوم او د څېړندوی له علمي رتبې څخه يې د څېړنوال علمي رتبې ته د ترفيع وړ بولم او د اثر ليکوال ته د څښتن تعالی له درباره د روغتيا او اوږد عمر غوښتنه کوم او په فرهنگي چارو کې يې د لازياتو برياليتوبونو په هيله يم.

په پای کې د افغانستان د علومو اکاډمي ته وړانديز کوم چې د دې اثر د چاپ زمينه برابره کړي، څو يې گټه عامه شي.

په درنښت

څېړنپوه نصرالله ناصر

هوايي ډگر، بي بي مهرو، اتفاق کلی

١٣٩٥/١٢/١

# تقریظ

د ژبو او ادبیاتو د علمي مرکز د غړي څېړندوی سیدنظیم سیدي پـروژه «د شـلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنـه» علمـي – څېړنیـزه پـروژه چـې د دغه مرکز د ۳۰/ ۱۱/ ۱۳۹۶ / ۷۷۷ ګڼه لیک په واسطه د تقریظ لپاره را لېـږل شـوې وه هغـه مې ټوله په غور سره وکتله، تر ټولو لومړی د ژبو او ادبیاتو د مرکز لـه پښـتو انسـتیتوت څخـه مننندوی یم داسې یوه مهمه پروژه چې د پښتو ادب تـاریخ د بشـپړولو پـه برخـه کـې مرسـته کوي نن سبا یې د لیکلو خورا زیاته اړتیا لیدله کېږي خپل تکړه څېړونکي ښاغلي سـیدنظیم سیدي ته سپارلې خورا پر ځای او د قدر وړ فرهنګي کار یې ترسره کړی دی.

د نولسمې پېړۍ په وروستیو او د شلمې پېړۍ په لومړیـو کـې پـه هېـواد کـې ژور بـدلون رامنځ ته کېږي هغه دا چې د آزادۍ غوښتنو او آزادۍ او خپلواکۍ ترلاسه کولو غوره نعمت لپاره ټولو افغانانو هڅه او هاند پیل کړ، لیکوالو او شاعرانو دا بهیر نـور هـم ګړنـدی کـړ او د ټولنې د مخکښ قشر په توګه یـې خپلـې لیکنـې او شـعرونه لـه اسـتعماري ځـواک څخـه د سرټکونې او د خپل اولس د ملي شعور او ملي جذبې د راپارونې لپاره وکارول.

لیکوالان او شاعران د خپلې ملي ژبې پښتو د پرمختګ لپاره متې رانغاړي، پښتو ادب ته د فورم (شکل) او محتوا (منځپـانګې) لـه پلـوه نـوي مفـاهیم داخلېـږي، لنـډه کیسـه، نـاول، رومان، تکل، فلمي سناریو، ځان پېښې، یونلیک او نور دې ته ورته ادبي فورمونه پښتو ادب ته لاره مومي، لیکوالان او شاعران په دغو ادبي فورمونو کې نوي اساسي، ټولنیز، انتقـادي او ملي مسایل ځایوي او د خپل اولس د ذهنونو او بیدارۍ په لاره کې ورڅخه خورا پـر ځـای ګټه اخلي چې د موضوع تفصیل په دغه څېړنیزه پروژه کې په ډېره ښه بڼه ترسره شوی دی.

دا څېړنیزه پروژه چې په څلورو څپرکو کې بشپړه شوې، لومړی څپرکی د موضوع شالید ته ځانګړی شوی چې لیکوال په کې په دغه اړه ځینو تېرو کړنو او کارونو ته د نقد په سترګه کتلي او تېروتنې په کې په ګوته شوې دي. دا کار د پروژې نوښـتني او ابتکـاري برخـه نـوره هم زیاتوي.

دویم څپرکی د وخت سیاسي، فرهنګي او ټـولنیزو حـالاتو تـه ځـانګړی شـوی. د ننـي ادبي تاریخ معیاورنه هم د پورتنیو حالاتو له مخې اټکل کېدای شي، لیکوال په خـورا دقیقـه

توگه د پورتنیو حالاتو د بیان په ترڅ کې د جامع ادبي تـاریخ او ادبي تـذکرې پـه اړه علمـي خبرې کړي. د ادبي تاریخ او ادبي تذکرې ترمنځ يې توپیر په علمي بڼه ثابت کـړی چـې دا کار د لیکوال د پخې لیکوالۍ او پر موضوع د حاکمیت معنا ورکوي.

دریم څپرکی د شـلمې پیـړۍ پـه لـومړۍ نیمایـي کـې د پښـتو ادب ودې او پرمختیـا تـه ځانگړی شوی. په دغې پیړۍ کې چې پـه پښـتو ادب کـې لـه کیفـي او کمـي پلـوه کـومې پرمختیاوې تر سترگو کېږي، لیکوال دغه پرمختیاوې په ښه توگه په خپلـه لیکنـه کـې انځـور کړې هغه نوي نثري او نظمي ژانرونـه چـې پښـتو ادب تـه راغـلي هغـه يـې پـه تفصـیل سره سپړلي او څېړلي دي.

څلورم څپرکی بیا د نظم او نثر په برخه کې چې کومو مشهورو لیکوالانو او شاعرانو کـار او ادبي هڅې کړې هغه يې په تفصیل سره په ډېره ښه توگه سپړلي دي چې د هـر لیکـوال د کارکولو حق او درناوی په کې اداء شوی دی او دا کار هغه پخه لاره او پول گڼي چې ځوان نسل ورڅخه گټه اخلي او د تېرو فرهنگیانو یاد وربانده تازه ساتل کېږي.

د اثر وروستۍ برخه پایله او وړاندیزونو ته ځانگړې شوې ده. د دغـې څېړنیـزې پـروژې په بشپړولو کې يې له (۱۷۹) اخځونو څخه گټه اخیستې ده.

د دغې پروژې په اړه زه خپل نظر په دې لاندې ټکو کې لنډوم:

✓ د لیکوال د لیکنې ژبه خورا ساده، روانه او ځینې نگه پښتو کلمـې، لکـه: نغوتـه، پـار، زبات، گورټ او نورې په کې کاروي هغه هم په داسې جملو کې کـه چېرتـه څـوک د دغـو کلمو په معنا ونه پوهېږي د جملې د سیاق له مخې د هغو په معنا پوهېدای شي دا کـار يـې د لیکنې د مهارت یوه برخه ده.

✓ لیکوال ورسره ورسره ځیني خوندور پښتو اصطلاحات هم په خپله لیکنه کې راوړي، لکه: بریدونه ښخ کړل، د اولس څرمنه ایستل، د غیرت مراندې، څـادر څنـډ واهـه او داسـې نوردا کـار مـتن د يـو نواختـه کلمـو او جملـو لـه کـارونې څخـه خلاصـوي د لوسـتونکي د دلچسپۍ لامل کېږي چې دا يې هم یوه غوره ښېگڼه ده.

✓ په لیکنه کې يې د لیکوالۍ یا تنقیط اصول او نښې نښانې ټولې په پام کې نیولې دي.

✓ د محتوا په برخه کې کله چې لیکوال د کوم اثر پر تېروتنه بحث کوي په داسې غـوره او ښو لفظونو سره د استدلال او علمي اصولو له مخې خپلـه خـبره او تیـزس وړانـدې کـوي لکه د کوم دوست او ملگري سره چـې سـلا مشـوره کـوي. مخکښـو لیکوالـو تـه د درنـاوي ترڅنگ د هغوی هڅې ستايي، خو ورسره ورسره خپله نیوکه او خبره هـم يـادوي، دا کـار د

کره کتنې او نقد له مخې یوه معتدله او له انصاف نه ډکه لاره ښکاري. وچ انتقاد او کره کتنه ولو که سمه او صحیح هم وي، خو د تېرو لیکوالو شخصیت ته زیان او صدمه رسوي، لیکوال په دغه څېړنه کې له وچ انتقاد او نیوکې څخه ډډه کړې چې دا کار یې د ستاینې وړ دی.

✓ د یو جامع ادبي تاریخ د لیکلو لپاره یې څېړنه خورا علمي او څېړنیزه ګڼم که چېرته وروستي پنځوس کلونه هم په همدغه توګه وڅېړي د پښتو د جامع ادبي تاریخ د بشپړولو لپاره به یو داسې اثر او څېړنه وګڼل شي چې د ماخذ په توګه به کار هم ورڅخه واخیستل شي.

✓ ښاغلي سیدي د علمي واقعیت او حقیقت د موندلو لپاره د تشریحي، تحلیلي او انتقادي میتود څخه ګټه پورته کړې ده.

زه له پورتنیو یادونو وروسته دا خبره پر ځای ګڼم چې ښاغلي څېړندوی سیدنظیم سیدي ته د دغه زیار او فرهنګي زیاتونې په بدل کې که چېرته یې د ترفیع نور پړاوونه بشپړ کړي وي، د څېړنوالی علمي رتبه ورکړل شي او د دغه څېړنیز ګټور اثر د چاپ سپارښتنه هم کوم.

ښاغلي سیدي ته د الله ﷻ له دربار څخه د زیات عمر ترځنګ د روغتیا غوښتنه کوم او په دا ډول فرهنګي زیاتونو کې ورته لا زیات بریالیتوب غواړم.

لاس دې یې پر چارو بر اوسي

څېړنپوه نعمت الله اندړ

د ژبو او ادبیاتو مرکز د فولکلور څانګې غړی

# تقریظ

د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت د ادبیاتو او متنپوهنې څانګې غړي ښاغلي څېړندوی سیدنظیم سیدي علمي څېړنیزه پروژه چې «د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه» ترسرلیک لاندې یې د څېړنوالۍ علمي پوړ ته د لوړاوي لپاره (A۴ ) سایز په (۳۵۲) مخونو کې په کمپیوټر کمپوز شوې او د (۷۱۸/ ۷۷۸) ګڼه لیک په وسیله له عملي پلوه د ارزونې او نظر څرګندونې له پاره راستول شوې وه د منځپانګې له لوستنې او هر اړخیزې کتنې وروسته یې په اړه خپله ارزونه او نظر په دې ډول څرګندوم:

د پښتو ژبې د ودې او پرمختیا لپاره په تېره شلمه پېړۍ کې له بل هر وخت نه زیات په شعوري توګه ډېرې ګټورې او اغېزناکې هلې ځلې شوي چې له امله یې په پښتو ادبیاتو کې د بڼې او مضمون له مخې جوت بنسټیز بدلونونه رامنځته شوي دي.

د همدې شلمې پېړۍ په لومړیو دوو لسیزو کې چې افغانستان یو ډول او پښتونخوا بل ډول د برتانوي ښکېلاک تر ولکې لاندې وو آزادۍ غوښتونکو د ښکېلاک په وړاندې د مقابلې او مبارزې لپاره ملي او سیاسي غورځنګونه رامنځ ته کړل. دلته په هېواد کې د مشروطیت غوښتنې غورځنګ او هلته په پښتونخوا کې لومړی (انجمن اصلاح افاغنه) او بیا ورپسې (خدایي خدمتګاري) غورځنګ یې ډېرې غوره او څرګندې بېلګې دي. د همدغو غورځنګونو بنسټګر، مشران او سرلاري هغه روښانفکران وو چې د لوړ سیاسي او ملي شعور ترڅنګ یې پیاوړي علمي او ادبي استعدادونه درلودل، نو ځکه په هماغه پیلامه کې د دغو غورځنګونو تر مستقیمو اغېزو لاندې د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا لپاره شعوري هڅې او هلې ځلې پیل شوې.

انجمن سراج الاخبار او په خپله سراج الاخبار افغانیه اوونیزه چې له امله یې پښتو ژبې معارف او اخبار ته لاره پیدا کړه، به پښتونخوا کې د زاخیلي په مشرۍ د افغان اخبار پښتو برخه او بیا په افغانستان کې له خپلواکۍ وروسته د پښتو ژبې خدمت ته پښتو مرکه او همدا مهال امان افغان، مشرقي اتحاد، غازي او نور اخبارونه له کورني اړودوړ نه وروسته د کابل او کندهار ادبي انجمنونه، پښتو ټولنه او خپرنیز ارګانونه یې (کابل مجله او زېري

اوونیزه) د ویښ زلمیانو سیاسي، ادبي او فرهنګي غورځنګ او په پښتونخوا کې د آزادو ښوونځیو او مدرسو تاسیسېدل، د پښتون، آزاد پښتون، سرحد او په ډیلي کې د نن پرون په نومونو مجلې په پښتو خپرېدل، پښتونخوا کې ځینې خپلواکې ادبي- فرهنګي ټولنې، لکه خوشحال ادبي جرګه، ولسي ادبي جرګه، رحمان ادبي جرګه، بزم ادب،... او ترڅنګ یې پېښور راډیو (۱۹۳۵ م) ډیلي راډیو (۱۹۳۹م) او (۱۹۴۱ م) کال د هېواد په پلازمېنه کابل کې د پښتون غږ (اوسنی کابل راډیو) رامنځ ته کېدل او د خپرونو زیاته برخه پښتو ژبې او ادب ته وقف کول له هماغه پیله د پښتو غږ مجله خپرول، په پښتونخوا کې د خیبرمیل او بیا د حمزه شینواري په لیکلې کیسه لیلی مجنون په نومونو پښتو سینمایي فلمونه جوړېدل او ننداري ته وړاندې کېدل، د لنډې کیسې، ناول، ډرامې، سفرنامې او نورو نوو ادبي ژانرونو رامنځته کېدل او داسې نور ټول د همدې شلمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي (۱۹۰۱- ۱۹۵۰م) کلونو د ادبي فرهنګي چارو د لړۍ زرینې کړۍ دي چې په خپل وار او ځای یې د پښتو ادبیاتو د ودې او پرمختیا په بهیر کې د یادونې او سیاسي وړ ونډه لرلې ده.

د همدې اغېزناکو فرهنګي هڅو له برکته د پښتو ادب په ګلبڼ کې ډېر ګلبوټي راټوکېدلي، زیات شمېر پښتانه ادیبان (لیکوالان او شاعران) روزل شوي، پالل شوي، خپلې ژبې او ادب د ارزښناکو علمي- فرهنګي خدمتونو د ترسره کولو جوګه شوي دي.

د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د شلمې پېړۍ د پښتو ادبیاتو د پرمختیایي بهیر څېړنه د یوې علمي څېړنیزې اړتیا په توګه د خپلو څېړنیزو چارو په کړنلاره کې لري؛ نو ځکه یې د موضوع پراختیا او پرمختیا کچې ته په کتنه او پاملرنه د دغې پېړۍ د پښتو ادبیاتو د لومړۍ برخې څېړنه او سپړنه د یوې علمي څېړنیزې پروژې په توګه (د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه) تر سرلیک لاندې څېړندوی سیدي ته سپارلې وه چې د څېړنوالۍ علمي پوړ ته د لوړاوي لپاره یې د ښاغلی څېړنپوه نصرالله ناصر تر لارښوونې لاندې بشپړه کړې. څېړونکی یې ترسره کولو ته لاس په کار شوی او دا دی دغه علمي څېړنیز چار یې په ټاکلې موده کې د اړوند تصویب شویو مفرداتو له مخې په دې لاندې څلورو څپرکو کې ترسره کړې ده:

لومړی څپرکی د موضوع شالید دی چې په دې برخه کې یې پخواني ترسره شوي کار ته اشاره کړې. د موضوع په شالید پسې چې تر دې مهاله د شوي کار عمومي یادونه او لنډه

ارزونه په کې شوې څېړونکی پر هغو د خپلې څېړنې د ترسره کېدو مبرمیت او اهمیت ښودلی دی.

په وروسته نورو څپرکو کې په ترتیب سره لومړی د وخت ټولنیز-فرهنګي حالت ته لنډه کتنه بیا د شلمې پېړۍ په لومړیو پنځو لسیزو کې د پښتو ادب وده او پرمختیا او د دغه پېر په فرهنګي بډاینه کې د شفاهي ادبیاتو ونډه ښودل شوې او ورسره پښتو ادب ته د نوو ژانرونو د راتګ لنډ، خو هر اړخیز جاج اخیستل شوی. پر دې سربېره د ټولو منثورو او منظومو ادبي ژانرونو د پېژندنې ترڅنګ د هغو په پرمختیايي بهیر هم لنډ بحث شوی چې د همدې پېړۍ په لومړیو پنځو لسیزو کې پښتو ادب ته راغلي دي.

د همدې څپرکې وروستۍ برخه د پښتو ادب په وده کې د رسنیو ونډې ته ځانګړې شوې ده او په ترڅ کې یې دا جوته شوې چې چاپي رسنیو د پښتو ادب په وده کې څه او څومره ونډه لرلې ده.

په وروستي (څلورم) څپرکي کې د پښتو نثر او نظم په وده کې د ځینو پیاوړو شاعرانو او لیکوالو ونډه د هغوی د علمي –ادبي شخصیتونو د لنډې پېژندنې ترڅنګ د دوی د خپلو آثارو او افکارو په رڼا کې زبات او جوته شوې ده. په پایله، وړاندیزونو او د اخځلیکونو او سرچینو په عمومي لیکلړ سره دغه علمي – څېړنیزه پروژه پای ته رسېدلې ده.

زه د دغې علمي– څېړنیزې پروژې ارزونه په دې ټکو کې کوم:

✓ څېړونکی د اړوندو مسایلو او موضوعاتو په څېړنه او سپړنه کې بریالی دی، استدلالونه او څرګندونې یې مدللې او په منطقي توګه وړاندې کړې دي.

✓ د موضوع د څېړنې مبرمیت، اهمیت او اړتیا یې محسوسه او د امکان تر بریده یې د هغې څېړنیز حق ترسره کړی دی.

✓ د لیکنې ژبه یې خوږه او روانه ده، خو کله پرې ادبي او کله بیا د محاورې رنګ دومره برلاسی شوی چې څېړنیزه جوله او رنګ یې لږ تت کړی دی.

له زیاتو نوو او باوري معلوماتو سرچینو او اخځلیکونو څخه په ګټه اخیستنه یې خپله څېړنه بشپړه کړې ده.

سرچینې یې لومړی د منل شوو علمي اکاډمیکو اصولو او معیارونو له مخې په لمنلیکونو

کې ښودلي او بیا یې د لیکنې په پای کې د هغو مجموعي لیکلړ وړاندې کړی دی.

دې پورته یادونو ته په پاملرنـه زه دا څېړنیـزه پـروژه مثبتـه ارزوم کـه د علمـي ترفیـع نـور شرایط یې پوره کړي وي زه یې د څېړندوی له علمي رتبې څخه د څېړنوال علمي پـوړ تـه د لوړاوي وړ گڼم. دوی ته د لا بریالیتوبونو هیله او د علومو اکاډمی ته د دې څېړنیزې پروژې د چاپ سپارښتنه کوم.

په درنښت

څېړنپوه دکتور سیدمحی الدین هاشمي

کابل، احمدشاه بابا مېنه

د ۱۳۹۶ لمریز کال د وري اوومه نېټه

# تقریظ

د ژبو او ادبیاتو مرکز محترم ریاست ته!

ستاسې د ۳۰/ ۱۱/ ۱۳۹۵نېټې د( ۷۷۹ پر ۷۱٦) گڼه لیک په ځواب کې په خورا درنښت لیکل کېږي چې ما د ښاغلي څېړندوی سید نظیم سیدي علمي - څېړنیزه پروژه (د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه ) له پیله تر پایه په پوره غور او دقت سره ولوستله چې په اړه یې خپل نظر په لاندې ټکو کې وړاندې کوم:

د ادبیاتو په اړه ادبپوهانو ډېر تعریفونه وړاندې کړي چې ځینې یې په دې ډول دي:

✓ هره هغه وینا، لیکلې وي که نا لیکلي "شفاهي"، نظم وي که نثر؛ خو چې هنري ارزښت ولري ادب بلل کېږي

✓ ادب د انگریزي ژبې د **literature** د ژباړې په معنا استعمالېږي او لټرېچر کلمه د لاتیني ژبې له (**litra**) ریښې نه را وتلې ده چې د خط او لیک معنا ښندي. پر دې سربېره لټرېچر د لیک و لوست کول او پوهې حاصلولو معنا هم ښندي.

✓ ادب په عربي کې زیرکی، پوهې او د څه ځیز د اندازې ساتلو ته وایي.

✓ ادب هغو معلوماتو ته وایي چې له کتابونو څخه ترلاسه کېږي.

✓ د لایقو ښځو او سړیو لیکلي احساسات او خیالات په داسې رنگ ځرگندولو ته وایي چې لوستونکی ترې نه خوند واخلي.

✓ ادب د انساني ژوند تفسیر دی.

خو زما په اند ادبیات د یو ملت د پېژندنې وثیقه او د عظمت او لویی نښه بلل کېږي، که څه هم په انساني ټولنو کې وده او پرمختگ تر ډېره په مادیاتو او اقتصاد پورې تړلی، خو بیا هم د دې تکامل او بشپړتوب د پېژندنې لپاره یوازې او یوازې د وټه ییزو (اقتصادي) علتونو پېژندنه کافي نه ده، ځکه انسان د خپل مادي فعالیت ترڅنگ د یو ډول معنوي ژوند درلودونکی هم دی، په انساني ټولنو کې د هغوی سیاسي، ټولنیز، فلسفي، هنري، ادبي او نور فعالیتونه د هغوی په تاریخي او ټولنیز تحلیل اوپېژندنه کې مهم رول لري. هغه ملتونه او قومونه چې خپلې ژبې، ادب، فرهنگ او کلتور ته پاملرنه کوي او د هغې د خدمت لپاره

يې متې رابڼه وهلي، خپله ژبه يې غني او علمي کړې او تر څنګ يې نړيوالو تـه ورپېژنـدلې وي، نو دکلتور، تهذيب او مدنيت لرونکو قومونو په کتار کې درېدلي دي.

موږ چې کله په ژوند او ادب خبرې کوو، نو دا خبره هم بايـد لـه يـاده ونـه باسـو چـې د ژوند په کړکېچن بهير کې د ادب او ادبياتو په ساحه کې پنځونې رواني وي، دا پنځونې کله پڅې او کله هم ډېرې تونديږ وي، خو هر وخت د ژبې په چوکـاټ کـې د ادب پنځـوونکي او ناقدين موجود وي چې د ناسميو په صورت کې يې توږي او د سمون خوا ته يې بيايي.

پښتو ژبه هم له ډېر لرغوني پېره تردې مهاله د لوړو ژورو شاهده ده. په لرغوني پېر کـې يې چې هرڅه درلودل د هغو کابو ټوله برخه يې يا هـم د اغيـارو لـه لاسـه او يـا هـم د نـورو لاملونو له امله له لاسه ورکړه او د ګمنامۍ خوراک شو چې اوس يې له څو محـدودو بېلګـو پرته يوازې کيسې او روايات را پاتې دي.

همدا ډول په کلاسيك دور کې چې کوم څه روښانه هم دي وجه يـې پـه پښـتنو کـې د احساس ډېره کمه جذبه وه چې بيا يې هم خپل ولس او قوم ته ډېر څـه ورکـړل او پـه خپـل وخت کې يې د ډېرو ولسونو د ادبياتو په پرتله سرلاري کړو.

همداسې معاصره دوره هم در واخله چې د پام وړ کارونـه پـه کـې شـوي او لا لګيـا دي کېږي، خو په ګانده کې موږ بايد داسې قدمونه واخلو چې تل مو راتلونکي نسـل تـه هرڅـه روښانه وي او د خپلې ژبې او ادب د يوې ليکې په اړه هم خبرې وکړو.

که له اوږدو خبرو تېر شم او د ښاغلي سيدي د څېړنيـزې پـروژې پـه اړه خپلـې خـبرې مشخصې او را لنډې کړم، نو ويلای شم چې:

- د ښاغلي سيدي د يادې علمي څېړنيزې پروژې علمي او تطبيقي ارزښـت کـاملاً څرګند دی. څکه شلمه ميلادي پېړۍ د پښـتو ژبـې او ادب د ودې او ارتقـا د پيـل پېړۍ ده چې تر ډېره يې د شلمې پېړۍ پـه لومړيـو کـې نـوی رنـګ او نـوې لارې خپلې کړي دي او پښتو ادب له فني او هنري اړخه ډېر څه پـه همدغـه دوره کـې تر لاسه کړي دي. که څه هم پر دغې موضوع خورې ورې ليکنې شوي دي، خـو د داسې يوې منظمې او منسجمې پروژې په ترڅ کې ورباندې تر اوسـه پـورې لـه دومره حجم او ظرفيت سره کار نه و شوی او په سيستماتيک ډول يـې څېـړل ډېـر اړين وو، زه يې ليکوال ته آفرين وايـم چـې د دغې موضوع د څېړنې او شننې حـق يې په سمه توګه ادا کړی دی.
- د څېړنې ترتيب او تنظيم يې سم او منظم دی. په څېړنه کې راغـلي مـواد پـه سـمه

توگه څېړل شوي او تحليل شوي دي او د پروژې عناوينو له پوره منطق او استدلال سره وسعت او تسلسل موندلی دی.

- ليکوال د پښتو ادب دغه ټاکلې دوره په منظمه او منسجمه توگه څېړلې او مطلوبه او متوقع نتيجه يې ځنې اخيستې ده چې زه دا يو غوره څېړنيز اثر بولم او د پښتو ادب مينه وال او څېړونکي به ورڅخه په راتلونکي کې د يوه معتبر مأخذ په توگه کار اخلي.
- ښاغلي سيدي خپله څېړنيزه پروژه د څېړنې له علمي ميتودونو او معيارونو سره سمه بشپړه کړې او له ډېرو باوري منابعو او مأخذونو څخه يې په کې استفاده کړې ده او د څېړنې په دوران کې يې د نورو د نظرياتو تر څنگ خپل نظر هم وړاندې کړی او په دې توگه يې د څېړنې اهميت او ارزښت ته قوت ورکړی او څېړنه يې د خپلو مثبتو نظرياتو په وړاندې کولو سره غښتلې کړې ده. ښاغلي ليکوال د خپلې څېړنې په پای کې د څېړنې له نوو او اکاډيميکو اصولو او معيارونو سره سم د خپلې څېړنې ماخذونه په گوته کړي دي .

د يادونې وړ ده چې څېړونکي په خپله څېړنه کې تر وسې وسې له لومړي لاس او ضروري موادو څخه کار اخيستی او له ډېرو معتبرو او مستندو مدارکو او منابعو څخه يې استفاده کړې ده چې دې ټکي دغې پروژې ته ځانگړی علمي او تحقيقي ارزښت ورکړی دی.

- ښاغلي سيدي د خپلې پروژې ټول راټول کړي مواد په ځانگړي نظم او تسلسل سره تنظيم کړي دي چې ارايه، تعبير او تفسير يې واضح، منطقي او مدلل دي.

په ليکنه کې يې فکري انسجام، د سبک ښکلا او نور ابتکاري اړخونه له ورايه ښکاري او د مضمون تسلسل يې په بشپړ ډول ساتلی، اضافي او بې ارتباطه جملې يې نه دي کارولې. د ليکنې او څېړنې ژبه يې روانه او عام فهمه ده. ابهام او تعقيد نه لري. هره کلمه يې په مناسب ډول کارولې ده. ژبنيو قواعدو او اصولو ته يې په پوره دقت سره پام کړی او ليکنښې يې سمې او پر ځای کارولې دي.

پورتنيو او دې ته ورته نورو ښېگڼو ته په پاملرنه زه دا څېړنيزه پروژه مثبته او گټوره ارزوم او نتيجه، ژبه او د ارايې ډول يې په ټول پوره، مطلوب، پوخ، معياري او اکاډميک گڼم او که چېرې ليکوال د علمي ترفېعاتو له لايحې سره سم د ترفېع نور اړوند شرايط او

معیارونه بشپړ کړي وي، نو نوموړی د څېړندوی له علمي رتبې څخه د څېړنوال علمي رتبې ته د لوړېدو وړ ګڼم او که چېرې د علومو اکاډمي د دې علمي اثر د چاپ زمینه برابره کړي، نو ګټه به یې عامه شي.

په پای کې د دغه اثر لیکوال سید نظیم سیدي ته د لوی خدای (ﷻ) له درباره د لازیاتو علمي او فرهنګي بریاوو هیله کوم.

په درنښت

څېړنوال عبدالظاهر شکیب

د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز علمي غړی

# سریزه

د نولسمې پېړۍ وروستۍ لسيزې او د شلمې پېړۍ لومړۍ نيمايي داسې کلونه دي چې له سياسي حالاتو واخله بيا تر ادبي حالاتو پورې په کې ژور بدلونونه ليدل کېږي او دغو ژورو بدلونونو ژورې سترګې او ژور فکرونه غوښتل او غواړي يې، خو دا چې شعر او ادب د ټولنې هنداره ده، شاعر او ليکوال د خلکو د هيلو ترجمان دی، نو ځکه يې ښه ځلېدنه او سپړودنه کولای شي، يعنې همدوی چې څه ويني هغه منعکسوي، خو هېڅکله بدو ته ښه او ښو ته بد نه وايي، خو دا چې بد هم په هنري الفاظو کې رانغاړي او د ټولنې احساسات پرې را پاروي دا يې لوی کمال دی چې د ښو او بدو تفکيک يې دلته نه کوو، خو د هنر نازک لطافت يې په رښتينې معنا د ستايلو وړ دی او همدغه لامل دی چې د نولسمې پېړۍ په وروستيو کې ليکوالو په يوې نه يوې بڼې له حالاتو او د انګريز له ښکېلاک څخه ورو ورو سرټکونه او د ولس بېدارونه پيل کړې وه، چارواکي يې په دې پوهول چې له دوی سره دوستي نوره د افغان ولس په ګټه نه ده، نو بويه چې په وخت يې غم وخوړل شي، خو په دې منځ کې د واکمنې کورنۍ کورني سياستونه او د وخت غوښتنې د دې لامل شوې چې اميرحبيب الله خان په کې خپل ژوند له لاسه ورکړي او له مړينې سره سم يې درې ځايه واکمنۍ اعلان شوې، پاچا امان الله خان چې مدبر او باتدبيره ځوان و دا هر څه يې داسې مهار کړل چې هم يې اردو په خوا کې ودرېده او هم يې ولس له انګريز نه د خپلواکۍ په اخيستلو سره خپل کړ او دا هغه کار و چې له مودو راهيسې ليکوالو د ولس د بيدارۍ په موخه پيل کړی و او ولس يې هم انتظار کاوه.

له انګريز نه ازادي واخيستل شوه، خو په ډېر شواخون، يعنې دغې ازادۍ د ډېرو افغانانو او آن د واکمنې کورنۍ ککرۍ وخوړې، خو بيا هم له خپله هوډه وانه وښتل او نه له مورچله په شا شول او لا يې هم په وينو کې لېت پېت وجود د انګريز بيا ځلي واکمنۍ ته زړه ښه نه کړ چې له بده مرغه تر اوسه پورې يې سختې او ناخوالې ګالو، خو خپل همت مو له لاسه نه دی ورکړی او لا هم د پرديو مقابلې ته چمتو يو، نو کله چې په هېواد کې داسې ژور بدلونونه راځي هرو مرو به په کې اديب او ليکوال خپل مسووليت په سم او دقيقه توګه ترسره کوي او لکه څنګه چې مخکې هم يادونه وشوه د دغه بدلون يو ستر لامل لا له

وړاندې همدغه لیکوالان او ادیبان وو، ځکه دوی نور له انګریزه په تنګ شوي وو او دوی په خپلو ترانو، شعرونو، ډرامو، کیسو او دې ته ورته ژانرونو کې انګریز غانده او د هغوی ظلم او زیاتی یې ولس ته په مخ کې ایښوده چې په دغه کار سره یې دوه کماله کول، یو دا چې ویده ولس یې را ویښول غوښتل او دویم دا چې په نامستقیم ډول یې هغه ادبي صنفونه او ژانرونه چې په نړی کې پیدا شوي وو او ورو ورو یې د صعود پړاوونو ته ځان رساوه یا د اردو او یا هم د پارسي ادب له لارې خپلول، نو ځکه وایو چې په همدغه وخت کې پښتو ادب ته لنډه کیسه راغله او زاخیلی یې لومړنی بنسټګر و، ناول هم د راحت په وسیله د پښتو ادب مېلمه شو چې وروسته ورته نورمحمد تره کي د سیاسي موخې لپاره د پښتو ادب جامې ور واغوستې، ادبي ټوټه هم د زاخیلي په هڅه پښتو شوه او د هوسی او چمبی (دایلار) ادبي ټوټه خو یې لا تر اوسه هم د ډېرو ښاغلو په یادو زده ده، همداسې رومان، تکل، فلمي سناریو، ځان پېښې، یونلیک او دې ته ورته په لسګونو نور ادبي صنفونه هم در واخله چې په دې وخت کې پښتو ادب ته راغلل او د پښتنو ذوق یې پر جګړې سربېره لږ د لطافت او تفریح پر لور هم راکاږه.

دا ښکاره خبره ده چې په جګړه ییزو او ناسمو سیاسي حالاتو کې د ټولنې هېڅ برخه وده نه شي کولی او پرله پسې زیانونه به ویني، خو د دغو حالاتو مهارول هم یوازې د تورې او ټوپک په زور نه کېږي، بلکې د هغو لپاره د ذهنونو جوړولو او اماده کولو ته اړتیا ده او دغه کار پر سیاسیونو سربېره ډېر د لیکوالو، ادیبانو او شاعرانو کار دی، ځکه دوی دي چې ذهنونه جوړوي، دوی دي چې ذهنونوته لوری ورکوي او دوی دي چې د ټولنې ناسمی را برسېره کوي، نو په شلمې پېړۍ کې هم لیکوالو او شاعرانو فعاله ونډه واخیسته او انګریزي ښکېلاک یې دومره بد نامه او ضد افغاني او انساني معرفي کړ چې له امله یې د پښتون او افغان ولس د صبر کاسې نسکورې او په یوې مخې یې د انګریز چونۍ او واکمنۍ ورټولې او ټغر یې ور وسوځاوه ، خو دا چې انګریز یې بیا څنګه ځواب راکړ، د دې څېړنې په پاڼو کې به یې ولولئ، خو هغه څه چې د پاملرنې وړ دي هغه په دغه پېر کې د امن او سوکالۍ د راتللو ترڅنګ ادبي پرمختګ دی، په دې معنا؛ موږ وینو چې په دغه وخت کې د غربي ادبیاتو کابو پنځلس یا شپاړس ادبي صنفونه (ژانرونه) پښتو ادب ته راغلل او د پښتو ادب لمن یې وېړه او پراخه کړه، پښتو ادب ته یې نوی رنګ ورکړ، پښتون ذهن یې له بې ذوقۍ او جګړې څخه را وایست، خو له دغو خبرو څخه دې داسې معنا هم نه اخیستل کېږي چې ګواکې تر دې پخوا پښتو ادبي (نظمي او نثري) صنفونه نه وو، ځکه که چېرې د دغې خبرې لکۍ ټینګه کړو بیا نو د:

سپوږمیه سروهه راخېږه
یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه

خبره او د سوما بوټي کیسه ټوله درواغ ده او په خپله مو د خپل ادب څو زره کلن تاریخ ته د جعل کنده وویسته چې دا سمه خبره نه ده، خو هغه څه چې د پاملرنې وړ دي هغه دا دي چې په دغه پېړ کې د اروپايي ادب ځینو مشهورو (نثري او نظمي) صنفونو چې پورته یې د ځینو نثري ژانرونو نومونه واخیستل شول، پښتو ادب ته لاره پیدا کړه او په دې توګه یې پښتو ادب او د پښتو ادب په تاریخ کې ژور بدلون راوست، ځکه له یوې خوا دغه صنفونه زموږ خپل شول او له بلې خوا زموږ د خپل ادب د صنفونو په ګډون په دغو صنفونو کې د وخت سیاسي، ټولنیزې او تاریخي ناخوالې بیان شوې او آن د پروفیسور بختاني په ګډون ډېرو نورو شاغلو د انګریز او نورو یرغلګرو په اړه داسې چاربېتې، لنډۍ، څلوریزې او نظمونه وویل چې تر اوسه پورې یې زموږ په غوږونو کې انګازې شته او د پروفیسور بختاني تور برېښ اثر خو لا تر اوسه هم د انسان په زړه خوله لګوي، نو دغه مسایل که له یوې کوچنۍ دریڅې څخه وکتل شي ښایي د سیاسي ادبیاتو نوم ورکړل شي، خو که له پراخې او نړیوالې دریڅې یې وګورو، نو بیا دغه چار د ادبیاتو د تاریخ لیکوالو کار دی چې دغه مسایل ټول راټول او خوندي یې کړي او په خوندیتوب کې یې د ادب تاریخ لیکوال اړ دی چې د دغه پېر سیاسي، فرهنګي، اقتصادي، ټولنیز او آن تاریخي حالات ټول په نظر کې ونیسي، ځکه دغه مسایل د ادبیاتو په منځپانګه او روح کې ژور بدلون راولي او چې لوستونکی یې په شالید پوه نه شي شونې ده چې په ځینو مواردو کې پرې د بطلان کرښه راکاږي، خو که زماني شالید یې لوستونکي ته وړاندې شي، نو امکان لري چې پر خپلې خبرې پښېمانه او په همدغو ادبیاتو کې ځینې برخې یې حماسي کیسې یا نظمونه وبولي، لکه د خوشحال خان خټک ځینې قصیدې چې حماسي اشعار بلل شوي او یا هم د محمد ګل نوري او پوهاند عبدالحی حبیبي ځینې نکلونه او کیسې چې نن سبا د حماسي ادبیاتو په نامه نومول شوي، نو د همدغې اړتیا د درک کېدنې او اوارېدنې په موخه د افغانستان د علومو اکاډمۍ تل زیار ګاللی چې وخت پر وخت دغه ډول څېړنیزې پروژې د خپلو څېړونکو په همت وڅېړي او ولس ته یې وړاندې کړي، له نېکه مرغه دا دی د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د اوږدمهالو پلانونو له مخې دغه پروژه چې "د شلمې پېړۍ په لومړي نیمایي کې د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه" نومېږي د لزوم دید پر بنسټ یې د څېړنوال علمي رتبې ته د لوړېدو په منظور د څېړنې لپاره ماته را وسپارله دا چې

ما ځنګه څېړلې او د هغې علمي حق مې تر کومه بریده ادا کړی دی په دې اړه به درانه لوستونکي پرېکړه کوي، خو ځان په دې قانع کوم چې لږ تر لږه مې دغې موضوع ته د نوو اړتیاوو او غوښتنو په رڼا کې کتلي او له خپل توان سره سمه مې له همدغه اړخه څېړلې ده، دا چې څه مې په کې څېړلي په لنډون سره یې په لاندې توګه داسې درسره شریکوم:

دغه پروژه په لومړي سر کې سریزه، د لارښود استاد نظر او درې تقریظونه لري په هغې پسې لومړی څپرکی راغلی چې په کې د موضوع په اړه پخواني شوي کار ته لنډه انتقادي کتنه شوې، البته پخواني ترسره شوي ټول کارونه ځکه نه بیانوم چې هغه په خپله یوه بېله پروژه ده، خو په هغو کې مې هغه اثار یاد کړي چې ډېر مشهور دي او نیمګړتیاوې لري او که څوک یې لولي، نو زما د کار په پام کې نیولو سره د هغوی نیمګړتیاوو ته ځیر شي او ناسم یې ونه لولي، خو دا خبره هم اړینه ده چې د هغوی نیمګړتیاوې شعوري نه وې، ځکه په هغه وخت کې امکانات نه وو، کتابتونونو ته د نن په څېر لاسرسی نه و، د نن په څېر د ټکنالوژۍ پرمختګ په اوج کې نه و، د نړۍ له ډېرو کتابتونونو څخه څوک خبر نه و، د سواد کچه د نن په څېر نه وه او نړیوال میتودونه هم د اوس په څېر نه وو، نو ځکه له عادت او دود سره سم ادب تاریخونه لیکل شوي، خو دا چې نننۍ غوښتنې نورې دي او په علومو کې هم ورځ په ورځ پرمختګ راځي او تخصصي کېږي، نو ځکه د دغو غوښتنو د ځواب لپاره اکاډمي نوې څېړنې کوي او دغه نوې څېړنې ځکه یو څه منلي دي چې له نړیوالو آرونو او څېړندودونو سره سمې دي.

تر لومړي څپرکي وروسته دویم څپرکی راغلی چې د وخت سیاسي، فرهنګي او ټولنیزو حالاتو ته ځانګړې شوی او د نننی ادب تاریخ لیکلوتر ټولو مهم آرونه هم همدا دي چې په ادب تاریخ کې باید سیاسي، ټولنیز او فرهنګي حالات وڅېړل شي، ځکه ادبیات پر دغو حالاتو پورې تړلي او د همدغو حالاتو له مخې یې دورې او پړاوونه بدلېږي او د همدغو لوړو ځوړو له امله په کې نوي نظمي او نثري ژانرونه رامنځ ته کېږي او که چېرې دغه حالات په کې نه وي، نو بیا به سخته وي چې موږ دې ورته د ادبیاتو تاریخ ووایو، ځکه هلته بیا له تذکرې سره ستونزمن کېږي او ادبي تذکره هېڅکله ادب تاریخ کېدلی نه شي.

بله خبره دا ده په ادب تاریخ کې هنریت هېڅکله هم له پامه نه غورځول کېږي، یعنې هغه اثار چې هنري ارزښت نه لري په ادب تاریخ کې هم د مطالعې ځای نه لري او ادبي تذکره بیا ډېره ځله دغه لاره چاره نه تعقیبوي.

په درېیم څپرکي کې مې د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د پښتو ادب وده او پرمختیا څېړلې، په دې کې شک نه شته چې په دغه پېر کې پښتو ادب په کافي اندازه وده

او پرمختګ کړی، ځکه نوي ادبي ژانرونه ورته راغلي، نوي نظمي ژانرونه ورته راغلي، نـوي عناصر، لکه: توپ، ټانک، چورلکې، راډیو، ټلویزیون، موټر، ریکارډر، ټېلېفون، ټېلګـراف، مخابره او داسې په لسګونو نور نوي توکي پیدا شـوي او پـه ادبیـاتو کـې یـې کارونـه وینـو، رسنۍ پیدا شوي او پښتو په کې لیکل شوې، ځکه تر دې وړاندې نـه یـوازې پښـتو د دربـار ژبه نه وه، بلکې ځینې خلک یې په ویلو هم شرمېدل خو د وخت رسنیو هم عامه کړه او هم یې پرې لیکل وکړل. تر دې څېړکي وروسته څلـورم فصـل راځـي چـې پـه هغـه کـې مـې د شلمې پېړۍ د نثر او نظم په وده کې د ځینو مشهورو شاعرانو او نثرلیکونکو پر ونډې بانـدې بحث کړی چې دوی په دغه وخت کې د نظم او نثر په وده کې څومره برخه اخیسـتې او لـه کوم حالت نه یې کوم حالت ته رسولي.

په دې کې شک نه شته د همدغو ښاغلو او اغلو برکت و چې نن موږ نسبتاً غني ادبیات لرو او ډېر ځله خپلې ادبي پنځونې او څېړنې تر ډېرو ژبو ښې او اوچتې بولو په حقیقت کـې دوی راته پول جوړ کړ او موږ پرې تېرېږو را تېرېږو که دوی نه وای او کار یې نه وای کړی، نو د ادبیاتو په برخه کې نن به زموږ نني کار له نړیوالـو ادبیـاتو سره سـیالي نـه کولـه، بلکـې لومړي ګامونه به یې اوچتول.

په هر حال! د همدغه څېرکي په پای کې مې څو تنـه شـاعران او لیکـوالان د بېلګـې پـه توګه معرفي کړي، خو دغه لیکوالان او شاعران د کـوم ځـانګړي ملحـوظ لـه مخـې نـه دي معرفي شوي، بلکې ظاهري لامل یې دا دی چې دوی هر یو په خپله برخه کې پـه صـدر یـا سر کې دي او یا یې هم نوښت کړی، نو ځکه یې د معرفۍ لړۍ پیل شوې، خو پـه حقیقـت کې د دغه پېر ټول لیکوالان او شـاعران د معرفـۍ قابـل او ورتـه د نمانځغونـډو د جوړېـدلو وړتیا او حق لري، خو تشه لاسه ته مې دښمن یې.

د څېړنې په وروستیو کې مې له پایلې او وړاندیزونو څخه وروسته هغه (۱۷۹) اخځونه په کرونولوژیک ډول معرفي کړي چې د کتاب یا څېړنې په اوږدو کې مې په کراتو مراتو ترې استفاده کړې او په دې سره زما دغه څېړنه د ټاکلي فهرست له مخې بشپړېږي، خو دا د دې معنا نه لري چې په دغه خاص مورد کې به نورې څېړنې نه کېږي، ما له ټاکلي پـلان او توان سره سم خپل کار ترسره کړی او په دې برخه کې مـې نـورو څېړنـو تـه لاره هـواره کړې ده.

کېدای شی نور ښاغلي زما اثر نقد او دې برخې ته له نـورو زاویـو وګـوري، خـو زه بـه د لوستونکی احسان هله ومنم چې راسره خپلې مشورې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي او له یو لوی ذهني کشمکش څخه مې وژغوري.

**د څېړنې میتود:**

د څېړنې د جوتېدنې او د کره کتونکي لپاره د کتنې معلومولو په موخه د څېړنې د میتود ټاکل اړین دي، که چېرې د څېړنې میتود معلوم نه کړو، نو کره کتونکي ته به د څېړنې میـزان او کتنـه سـتونزمنه وي او تـر اخـره بـه مـو ورتـه د خپـل مظـروف لپـاره ظـرف نـه وي ورکړی (ټاکلی)، نو ځکه له دغه مسوولیته ځان خلاصوم او وایم چې ما په خپله دغـه څېړنـه کې له مروجو علمي میتودونو په ځانګړې توګه تشریحي، تحلیلي، پرتلیز او انتقادي یـا کـره کتنیز میتود څخه استفاده کړې ده.

په دې اثر کې د ځینو مسایلو د پېژندنې لپاره مې د پېژندل شوو لیکوالو له خـوا وړانـدې شوي تعریفونه را اخیستي او د همغږۍ په صـورت کـې مـې د تاییـد مهـر پـرې لګـولی او د ناهمغږۍ په صورت مې د هغو په اړه خپل نظر څرګند کړی او نوې طرحه مې وړاندې کړې چې ښایي ډېرو ته په زړه پورې وي او ځینې ورسره مخالفت وښـیي، خـو کـه مخـالفین یـې پیدا کړل، نو غوره کار به مې کړی وي، ځکه زه به له یوې خوا نوي او پاخه معلومات واورم او زده به یې کړم او له بلې خوا که اړتیا وه بیا به یې هم ځواب وکاږم.

**د موضوع څېړنیز مبرمیت، اهمیت او اړتیا:**

دا څرګنده خبره ده چې هره موضوع د یوې اړتیا، اهمیـت او مبرمیـت پـر اسـاس لیکـل کېږي، خو دغه اړتیا کله ډېره او کله هم د پام وړ وي، خو زما په نظر په دغه برخه کـې چـې ما کار کړی اړتیا یو څه ډېره وه، په دې معنا تر مـا وړانـدې هـم د پښـتو ادبیـاتو تاریخونـه او تحلیلونه یې لیکل شوي وو او لا هم لیکل کېږي، خو په هغو ټولو کې د خو خبره شته او پر همدې دلیل مې د دغه کتاب کښلو ته زړه ښه کړ، ځکه پخوا چې پـه پښـتو ادب کـې کـوم ادب تاریخونه لیکل شوي کابو ټول یې د وخت په مروجه او دودیـزه بڼـه لیکـل شـوي او د نن عصر د غوښتنو او اړتیاوو ځواب نه شي ویلی او د ننیو ادبپوهانو په وینـا دغـه تاریخونـه کابو ډېر یې د ادب تاریخ په چوکاټ کې نه، بلکې د ادبي تذکرو په چوکاټ کې د مطـالعې ځای لري، نو ځکه دا اړتیا محسوسېدله چې د اوسنیو اړتیاوو او غوښتنو په رڼا کـې بایـد یـو پښتو ادب تـاریخ ولیکـل شي دا چـې څنګـه او پـه کومـو شرایطـو او پخوانیـو هغـو کـومې نیمګړتیاوې لرلې ما تر خپلې وسې دغه کار ته زړه ښه کړ.

زما دغه کار به په ظاهره څو ښېګنې ولري: یو دا چې د ادب تـاریخ لیکنـې زوړ دود بـه

مات او د نوو اړتیاوو، غوښتنو او آرونو په رڼا کې به یو نوي ادب تاریخ لیکلو ته زمینه سازي وشي.

دویم دا د یوې ټولنې ټول ادبي، سیاسي، ټولنیز او فرهنګي ارزښتونه د هغې ټولنې په ادبي تاریخونو کې نغښتې وي او ما په دغه اثر کې هڅه کړې چې دغه ارزښتونه په رښتینې معنا بیان کړم.

دریم دا چې دغه اثر به ځوانو څېړونکو او د دغې برخې نورو مینه والو ته د ادب تاریخ لیکنې جوتې لارې او څرګند چوکاټونه وړاندې کړي او په دې توګه به د ادب تاریخ لیکنې په برخه کې یوه نوې څپه پیل شي.

څلورم دا تر کومه ځایه چې ماته معلومه ده په دغه روش کې چې تر ډېره مې له نړیوالو روشونو سره سم تعقیب کړی کوم ځانګړی اثر یا رساله نه ده لیکل شوې، خو زما له نظره یې په اړه خورې ورې لیکنې په موقوتو او غیرموقوتو اثارو کې تېرې شوي، نو د دغه اثر په کښلو سره به دغه تشه تر ډېره ډکه او یوه زیاتونه وي.

پنځم دا که چېرې کوم څوک غواړي چې په راتلونکې کې د پښتو ادبیاتو یو بشپړ تاریخ ولیکي، نو د دغه روش او میتود په پام کې نیولو سره کولای شي چې یو نړیوال اثر ولیکي او دا به هغه څه وي چې زموږ څېړنه یې غواړي، نو زما په نظر دغه څېړنه دا او دې ته ورته خوبیو او غوښتنو ته لږو ډېر ځواب ویلی شي، خو په ورته وخت کې ښایي ځینې ستونزې او نیمګړتیاوې هم ولري چې هغه به زما له دغو ستونزو څخه پیدا شوې وي:

✓ کله چې د ادارې په لزوم دید او زما په وړاندیز دغه پروژه د پنځو کالو لپاره ماته راکړل شوه، نو زه ورته په دې ډېر خوشحاله وم چې ما یې په اړه هم نوې خبرې لرلې او هم کافي وخت، خو هغه متل یا اصطلاح ده چې د بنده او د الله وعده یوه نه وي، لا مې پر دغه کار بسم الله نه وه کړې چې د ژوند ستره هستي (پلار) مې په نه رغېدونکې ناروغۍ (سرطان) باندې اخته شو او کابو یونیم کال د ناروغۍ په بستر پرېوت چې دغه کار نه یوازې زه له کاره په شا کړم، بلکې ذهناً یې ناروغ، ستړی او خپه کړم او اخر دا چې نصیب ور ورسېد او د تل لپاره یې له سیوري بې برخې شوم.

د پلار د تدفین او فاتحې خبرې لا خلاصې نه وې چې په خپله په اوږدې ناروغۍ پرېوتم او له څو پرله پسې عملیاتو څخه وروسته مې ذهناً رواني سرګردانۍ پیدا کړې چې کابو دوه کاله دا کیسې هم وغځېدې، خو له دغو ټولو سرګردانیو او ناروغیو سره سره مې بیا هم د کابل مجلې مدیریت په سمه توګه کړې او د نشراتو درنو کارونو ته مې اوږه ورکړې

وه او ډېر ځله مې ځان هم په همدې تسلي کاوه چې که پروژه مې ونه لیکله، نو لږ تر لږه خو مې مجله چاپ او غني کړه او چې د ملګرو ستاینې او هرکلي به مې د مجلې په اړه اورېدل، نو له نوي روحیې سره به مې بیا هم همدغه اړخ ته زور ورکړ، خو دې ته نه وم ځیر چې په همدې همدې کې راباندې د وخت کړۍ راتنګه شوه او د درانه لارښود استاد په ګډون د ډېرو نورو درنو استادانو پرله پسې وینا او ټینګار دې ته اړ کړم چې دغه شلېدلې لړۍ یو ځل بیا پیل کړم، خو دا ځل نه هغه پخوانۍ روحیه وه، نه هغه حوصله وه او نه هم هغه ځواني، خو دا چې مسلک مو تل ریزشي کار دی، نو مجبوراً مې ذوق ته قناعت ورکړ چې دغه چاره ترسره کېدل غواړي او باید ترسره شي چې په ډېر تکلیف، کړاو او شواخون مې شاته غورځېدلی کار بېرته له سره پیل کړ، خو د کار په اوږدو کې بیا هم له ډېرو ستونزو سره مخامخ شوم، په دې معنا ما باید د خپل کار په اوږدو کې ټولنیزه او فرهنګي برخه هم څېړلې وای او تر کومه ځایه چې ماته معلومه ده د دغو دواړو برخو څېړل د سیاسي او تاریخي حالاتو له څېړلو څخه پرته ناشونې خبره ده او د دغو حالاتو د څېړلو لویه ننګونه دا وه چې ډېر ځله زموږ پر ځینو مؤرخینو هم نیوکې کېږي چې دوی په اکثریتو مواردو کې بې پرې نه دي پاتې شوي او هرو مرو یې د یو چا پلوي کړې او دا چې د دغو خبرو سپیناوی معلومولې، نو هغه په تاریخ کې ځان ملا کېدل او وخت غواړي چې له بده مرغه بیا هم زه په دې برخه کې معذور وم، خو له دې ټولو خبرو سره سره مې بیا هم د بې طرفۍ اصل غوره وګاڼه او تر خپلې وسې مې په بې طرفه توګه تاریخ او سیاسي حالات را واخیستل او تر وسې وسې مې تحلیل او تجزیه هم کړل چې د لوستلو پر مهال به یې زما بې پرېتوب درته زبات شي.

نو دا او دې ته ورته ستونزې، ننګونې او لانجې د دې لامل شوې چې زما په پروژه کې ځینې نیمګړتیاوې پیدا شي، خو په دې خبرو هېڅکله له حقیقته تېښته نه کوم او هېڅکله پر خپلو نیمګړتیاوو پرده نه اچوم، هر هغه څوک چې ما خپلو نیمګړتیاوو ته ځیر کړي په حقیقت کې لوی احسان راسره کوي، ځکه د تحقیق معنا حق ته رسېدل دي او انسان هله حق ته رسېږي چې له خبرو یې ناحق خبرې لرې شي او دا هله شونې ده چې تاسې مې ورته ځیر کړئ.

په هر حال! له دې ټولو خبرو سره سره دا به هم لویه بې انصافي وي چې د دغو دومره کارونو په ترسره کولو کې د خپلې معنوي هستۍ، حقدار شخصیت او دقیق څېړونکي محترم لارښود استاد څېړنپوه نصرالله ناصر نوم یاد نه کړم، ځکه استاد ناصر د دغه کار په ترسره کولو کې نه یوازې زه هڅولی یم، بلکې وخت په وخت د اړتیا وړ کتابونو پر راکولو

سربېره يې لازمې مشورې هم راکړي، پروژه يې په دقيقه توگه وکتله او له لازمو سمونونو څخه وروسته يې خپل ارزښتمن نظر هم پرې وکېښ چې زه يې ځان د احسانونو پوروړی بولم او د منني لپاره يې له الفاظو پرته بله داسې ډالۍ نه لرم چې د هغه خوا پرې خوښه کړم.

همدا راز د هغو درنو ملگرو او استادانو دې هم کور ودان وي چې خپل کتابونه، مشورې او لارښوونې يې راسره شريکې کړي او د دغې پروژې په بشپړاوي کې يې زما لاسنيوی کړی او په پای کې له درنو تقريظ ليکونکو استادانو څخه هم نړۍ مننه چې پر خپلو مشورو او لازمو سمونونو سربېره يې خپل علمي تقريظونه هم راکړل، کور يې ودان او ژوند يې سوکاله.

نور مو نو په منځ کې نه خنډ کېږم که علمي او اداري پړاوونه يې ترسره کړل او چاپ يې گناه يا تېروتنه ونه بلل شوه هرو مرو به ستاسې د لاسونو ښکلا حس کړي.